# د احمد جان احمد مروت ادبي خدمات

## يوه تنقيدي جائزه

# The Literary contribution of Ahmad Jan Ahmad Marwat A Critical review

Issn 2304-1463

Muhammad Farid Ullah Qureshi ⋆
faridullahqasir646@gmail.com
Dr.Noor Muhammad (Danish Bettani) ⋆⋆
danish.bettani@uop.edu.pk

**Abstract:**

Ahmad Jan Marwat is a distinguished Pashto poet, researcher, translator and literary critic who has made significant contributions to Pashto literature.His first poetry collection, (Tears Drop by Drop).publish in 2001 reflects his deep emotions and experiences. His second collection, ("Faces,Facecs ,Collar") ,published in 2022,showcases his technical skills and creative abilities. Marwat has conducted extensive research on various aspects of Pashto literature.His book ( "The story of Haiqu") provides detailed insights in to the history, structure and themes of the Haiqu genre.He has translated Dr. Israr Ahmad,s ("Bayan al Quran") in to Pashto in seven volumes, with one volume having been reprinted three times.Additionally,he has translated selected works of poets like Tahir kalachavi, Rahmat Ullah Dard, Majzoob, Muntazir Betani and Afgar in to English under the title "Dawn of the Desert" which are currently in the printing phase.Overall, Ahmad Jan Ahmad Marwat has made valuable contributions to Pashto literature through his poetry ,research, translation and critical writings, reflecting his profound thought, technical expertise ,and literary commitment.

**Keywords:**

Pashto, Literature, Poetry, Prose, Marway, Hiko, Translation.

د لکي مروت خاوره دادب او هنرله اړخه ډېره بډايه او د قدردانۍ وړ ده ـ په دې سيمه کښې په هر دور کښې داسې شاعران او ليکوالان پېدا شوي دي چې نۀ يوازې د خپلې سيمې، بلکې د ټولې پښتو ادبي نړۍ لپاره د وياړ سرچينه ګرځېدلي دي ـ دې شاعرانو د خپل فن په ذريعه د خپلې سيمې ستونزې، سماجي حالتونه او رومانټيک احساسات په داسې ډول بيان کړي دي چې د پښتو ادب خزانه يې لا نوره هم غني کړې ده ـ دلته د هر ډول ادبي ژانر لپاره د

⋆ Ph.D Scholar Pashto Academy University of Peshawar
⋆⋆ Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar.

مینې او ستائینې چاپېریال موجود دي، کوم چې ځوان نسل ته د الهام ورکولو سبب ګرځي .دا خاوره د خپلو ادبي شخصیتونود پېژندنې او د هغوي د کارونو د نړیوالو په هڅو کښې هم د پام وړ ده ، او دا یوه ستره ویاړنه ده چې د لکي مروت ادب په پښتو ژبه کښې ځانګړې مرتبه لري۔

احمدجان مروت د لکي مروت د ادب او ثقافت په نړۍ کښې یو ممتاز نوم دے، چې د شاعرۍ ،تحقیق،تنقیداو ترجمې په مېدان کښې یې مهم کارونه کړي دي ۔ هغه په ۱۹ جولائي ۱۹۵۹ کال ، د جمعه خان په کور کښې د ونډه لنګر خېل په کلي ضلع لکي مروت کښې زېږېدلے دے۔ هغۀ تر شپاړسم ټولګي پورې خپل تعلیمي سفر بشپړ کړے دے ۔ هغۀ د ډاکخانې په محکمه کښې دندې پېل کړې او د خپل وړتیا په برکت د ډویژنل سپرټېنډنټ په توګه دندې ته ورسېد ۔ په ۱۹ جولائي ۲۰۱۹ کال کښې هغۀ د خپلې رسمي دندې نه د تقاعد (پنشن) ژوند پېل کړو -

احمدمروت دپښتوادب یوهغه شخصیت دے چې په څلورو مهموبرخوکښې یې ځانګړے نوم ترلاسه کړے دے۔ د هغۀ شاعري د احساساتو او جذباتو هنداره ده ۔ تحقیقي کارونه یې د علمي او فکري پراختیا لار ښود دي .تنقید یې رغنده (constructive) او مؤثر دے ۔ منظومې ژباړې یې د ادب د نړیوالتوب څرګندونه کوي ۔ سلیم راز لیکي چې :

> "احمد جان احمد مروت د پښتو په نني ادبي دنیا کښې څۀ نااشنانوم نۀ دے.د خپلوعلمي او ادبي کاوشونو په وجه ادبي حلقوکښې خپله پېژندګلي لري ،چې په ډېره لږه موده کښې یې یو شاعر سره سره د یوادیب،نقاداو مترجم په طور خپل شناخت ثابت کړے اوشهرت موندلے دے" (۱)

"اوښکې څاڅکي څاڅکي " دااحمدجان احمدمروت وړومبنۍ شعري مجموعه ده چې " په ۲۰۰۱ کښې چاپ شوې ده،دا د پښتو ادب لپاره مهمه اضافه ګڼل کېږي ۔ دا کتاب ۱۶۸ مخونه لري،او د ښکلي ټائيټل سره وړاندې شوے دے ۔ د دې کتاب په سر کښې د قاسم محمود ، پروفېسر غلام رباني تائب،نادم خټک ،منتظر بېټني اودپروفېسررحمت الله درد لخوا لیکل شوې تحقیقي سریزې شتون لري، چې د احمد جان د فکر او فن په اړه ژوره تبصره کوي۔ د

کتاب په اخرني مخ د مصنف تصوير او د انعام الله جان دولت پوره چارسده، له خوا يو لنډ ليک دے.

د کتاب شروع د يو حمدباري تعالي نه شوې ده ورپسې يو نعت رسول الله ﷺ دے۔ دې سره سره په دا برخه کښې نور واړه غزلونه دي ۔ په بله برخه کښې رباعيات او قطعات ځاے شوي دي او اخري برخه چې د يو نعت نه شروع شوې ده،پابند او ازاد نظمونه پکښې شامل دي چې د شاعر په مختلفو اسلوبونو او تخليقي توان دلالت کوي.ددې کتاب ځانګړتياوې دا دي چې دا کتاب د احمدجان احمد مروت د فن او فکر هراړخيز اړخونه راڅرګندوي۔ شاعرپه دې کښې نۀ يواځې د خپل روحانيت او وطن دوستۍ اظهار کړے دے،بلکې د ژوندپه عامو اړخونو يې هم خبرې کړې دي۔ د کتاب ټائيټل ښکلے او په زړۀ پورې دے ،چې د کتاب منځپانګه ښۀ تمثيلوي۔ دا مجموعه د احمد جان د فن او فکر وړومبے قدم ګڼل کېږي خو د ادب مينه والو يې په ډېره توده هرکلے کړے دے۔

" درد او مجذوب " د احمد جان دويم تحقيقي او تنقيدي کتاب "درد او مجذوب" په ۲۰۰۶ کښې چاپ شوے دے،چې د پښتو ادب په تحقيقي او تنقيدي مېدان کښې يو ځانګړے ځاے لري۔ دا کتاب دوه سوه مخونه لري۔ دا کتاب يوغوره ماخذ دے او د لوستونکو او نقادانو لپاره د بحث او تحليل يوه غوره سرچينه ده۔

د کتاب په اړه د سترشاعر،محقق اونقاد سليم راز يوه بشپړه او ژوره تبصره کړې ده۔ هغۀ په دې کتاب کښې وړاندې شوي موضوعات په دقيق او مدلل ډول څېړلي او د کتاب د علمي اهميت ستائينه يې کړې ده۔ خو هغۀ په ځينو برخو کښې خپل تحفظات هم څرګند کړي دي ، چې محقق د خپلې مطالعاتي تجزيې لپاره زياتره د نورو نقادانو او اديبانو په نظرياتو اوحوالو تکيه کړې ده۔ هغۀ ليکلي چې :

> " د احمد جان مروت په دې کتاب کښې د دواړو شخصيتونودمطالعاتي تجزيې زيات انحصار په خارجي شهادتونو دے خو مقابلتاً د داخلي شهادت او د شعر د فني اوفکري تجزياتي مطالعې نه ډېره شوې ده چې د زيات اهميت او ضرورت حامل وو۔ زما په خيال مصنف له د زياتو شاعرانو د

حوالو په نسبت د یوڅو صائب الرائې نقادانو رائې او خپل تنقیدي نظر نه کار اخستل پکار وو." (۲)

د سلیم راز دا تحفظ په حقیقت کښې د احمد جان د ادبي کار د لا ښهٔ کولو لپاره یوتعمیري او مثبت انتقاد( criticism ) دے اودا انتقاد د دې ښکارندوے دے چې د احمد جان اثر د تنقیدي او تحقیقي ادب لپاره یوه مهمه اضافه ده خوځینې اړخونه داسې شته چې بایدپه پام کښې ونیول شي. ځکه چې د خارجي حوالو استعمال که څهٔ هم د یو اثر د وزن زیاتولو د پاره مهم دي ، خوکه انحصار یواځې پرې وشي نو دا د لیکوال د خپلې تخلیقي او تحقیقي قوت انعکاس کموي.

دا کتاب دوه مهم موضوعات رانغاړي ،یوه د رحمت الله درد د غزل تنقیدي او تحلیلي څېړنه او بل د عبدالرحیم مجذوب په نظمونوتنقیدي بحث. د کتاب په اخرني مخ د حنیف خلیل لخوا د مصنف په اړه لنډ لیک شتون لري، چې د احمد جان د شخصیت او ادبي هڅو په اړه معلومات وړاندې کوي. د دې کتاب د لیکلو انداز ،اسلوب، ترتیب او د موضوعاتو تسلسل د ستائینې وړ دے. "درد او مجذوب" یواځې یو کتاب نهٔ بلکې دا د پښتو ادب لپاره د فکر او تحلیل یوه داسې خزانه ده چې لوستونکے د ادب د ژورتیاوو سره اشنا کوي.

**ځیرې ځیرې ګرېوان** : داحمد جان دا دریمه مجموعه چې په شعري بڼه کښې په دسمبر ۲۰۲۲ کښې چاپ شوې ده . دا کتاب د پښتو ادب مینه والو لپاره یوه ارزښتناکه اضافه ده،چې د احمدجان د فکري او شعري هنر نوې ژورتیاوې او ځانګړتیاوې وړاندې کوي. دا کتاب ټول ۱۵۲ مخونه لري ،چې پکښې مختلف ادبي صنفونه ځاے شوي دي . دکتاب پېل د حمد څخه شوے دے ،چې د احمد جان د دیني احساساتو څرګندونه کوي.

په دې کتاب کښې غزلونه،نظمونه او یوڅو سندرې شاملې دي،چې د شاعر فکري تنوع او هنري مهارت څرګندوي . د حضرت انس رضي الله تعالي عنه د څو عربي شعرونو منظومه پښتو ژباړه هم پکښې شوې ده،چې کتاب ته ځانګړے دیني او ادبي ارزښت ورکوي . د پښتو ادب درې مشهورو شخصیتونو سلیم راز،حنیف خلیل او ډاکټرالطاف احمد شاه د دې کتاب په

اړه عالمانه تبصرې لیکلې دي۔دوي د کتاب د فکري ژورتیا ،شعري اسلوب او د احمدجان پښتو ادب ته پېرزوئینې ستائینه کړې ده ۔

"څیرې څیرې ګرېوان" د احمدجان مروت د ادبي هنر یوه ښکلې نمونه ده، چې د پښتو ادب په مختلفو صنفونو کښې د هغهٔ فني مهارت او ژور فکر څرګندوي ۔ دا کتاب د پښتو ادب لوستونکو لپاره د مطالعې وړ دے او د شاعر د شعري وړتیاوو او دیني احساساتو د درک لپاره یوه مهمه سرچینه ده۔

" بیان القران مع تعارف القران " دډاکټراسراراحمدکتاب هم احمدجان مروت په اووهٔ جلدونوکښې پښتو ته ژباړ لے دے چې یو جلدپه ۲۰۱۰ کښې د " تعارف قران مع عظمت قران"۲۰۱۲کښې د "تعارف قران مع بیان القران" ۲۰۱۸ کښې د"بیان القران مع تعاف قران" د نومونو سره خپورشوے دے.

" د هائیکو قیصه " د احمدجان پنځم علمي،ادبي،تحقیقي او تنقیدي کتاب دے ، چې د پښتو ادب لپاره یو مهم ګام دے ۔ په دې کتاب کښې احمدجان د هائیکود نړیوال تاریخ او جاپاني ادب سره ددې تړاو په اړه مفصل بحث کړے دے ۔د هائیکو د جوړښت بنسټیز عناصر یې روښانه کړي دي ۔ په پښتو ادب کښې د هائیکو راوړلو وړومبنۍ هڅې او د هائیکو د مخکښې شاعر په حقله یې استدلالي بحث وړاندې کړے دے۔

دا کتاب په ۲۰۲۳ کښې د پښتو ادب دوو وتلو شخصیتونو حنیف خلیل او نادرخان علیل د سریزو سره په ۲۲۱ مخونو کښې چاپ شوے دے۔احمدجان مروت ددې کتاب له لارې د پښتو ادب یو نوے اړخ روښانه کړے دے،لکه حنیف خلیل چې لیکلي دي:

> " زهٔ په مجموعي توګه د ښاغلي احمدجان مروت دغه کتاب"د هائیکو قیصه"
> پښتو کښې په دې صنف د وړومبي باقاعده تحقیق نه علاوه هم د هغهٔ د بلیغ
> انداز،رسا استدلال،معروضي رسائي او خورې مطالعې مظهر ګڼم "(۳)

"د هائیکو قیصه" په ځانګړو او پراخو برخو وېشل شوے کتاب دے،چې هره برخه د هائیکو یوهٔ ځانګړي اړخ ته ژوره کتنه کوي۔ دا کتاب دیوې جامع او ژورې څېړنې نتیجه ده ،چې په پښتو ادب کښې د هائیکو د ودې ،تحلیل او جمالیاتو هر اړخ روښانه کوي۔

احمدجان مروت یوهر اړخیزادیب اوشاعردے، چې د ذکر شوو شعري،تحقیقي، تنقیدي او ژباړنیزکتابونو تر څنګ یې په ګڼو نورو برخو کښې هم د ادب لپاره ارزښتمن خدمتونه ترسره کړي دي۔د هغهٔ غیر مطبوعه اثار او ادبي خدماتو په اړه لاندې مهم ټکي یادېږي:

## غیر مطبوعه اثار :

- " درد د شعر په ائینه کښې"یو تحقیقي او تنقیدي اثر دے چې د رحمت الله درد په شعرونو ژوره مطالعه وړاندې کوي۔
- د مفتي تقي عثماني د اردو مشهور تفسیر " توضیح القران" پښتو ژباړه چې تر اوسه چاپ شوې نهٔ ده۔
- "Dawn of the Desert " د پښتو د مشهورو شاعرانو لکه طاهرکلاچوي،رحمت الله درد ، عبدالرحیم مجذوب،منتظربېټنې او افګار بخاري منتخب کلام انګلیسي ته ژباړل شوے،چې د چاپ په مرحله کښې دے۔

## نورادبي خدمتونه :

داحمدجان ګڼ شمېرتحقیقي او تنقیدي مقالې اوشاعري په مختلفو مجلواو ورځپاڼولکه مجله "کاروان" میرانشاه،"پلوشه" کراچي،"جرس" کوئټه .ورځپاڼې "وحدت،"هېواد"پښتواو"ائین" اردو ۔ هغهٔ د پښتو ادب د ودې لپاره په بېلا بېلو ادبي ټولنو کښې هم فعاله ونډه اخیستې ده لکه ادبي مرکز سرائے نورنګ،رڼا ادبي جرګه او د مروتو ادبي ټولنه۔

احمد جان مروت د پښتو او اردو ادب په ژباړنې ،تحقیق او تنقید کښې یو ارزښتناک نوم دے۔ دهغهٔ علمي او ادبي کارونه نهٔ یواځې د پښتو ادب د بډاینې لامل ګرځېدلي،بلکې په نړیواله کچه یې د پښتو ادبیاتو لپاره یو نوے دریځ (موقف) وړاندې کړے دے۔ ”Dawn of the Desert” به د هغهٔ نړیوال شهرت لا زیات کړي۔

## شاعري

احمدجان احمد د مروتو یو پېژندل شوے شاعر دے ، چې په ډېرو شعري صنفونو لکه غزل،نظم،سندرو رباعیاتو او قطعاتو یې قلم چلولے دے . په دې ټولو صنفونو کښې که څۀ هم هغه خپلو ځانګړو تجربو او فلسفي سوچ ته ژوره انځورګري ورکړې،خو د غزل او نظم په ژانرونو کښې یې زیات مهارت څرګند شوے دے . د هغۀ دا اصناف نۀ یواځې د موضوعاتو فراختیا لري، بلکې د ژبې ښکلا او فني کمال له پلوه هم د ستائینې وړ دي.

د هغۀ په شاعرۍ کښې د پښتو د روایتي شاعرۍ عناصر زیات لیدل کېږي. هغۀ د خپلو شعرونو له لارې د ټولنې دودونه ،عنعنات او کلتوري ارزښتونه په هنري بڼه وړاندې کوي. د هغۀ په کلام کښې د پښتو د روایتي شاعرۍ د ښکلا او سادګۍ انعکاس څرګند دے.

**غزل** : هغه په غزل کښې د خپلو خیالاتو او جذباتو ډېر نازک او تخیلاتي انځورونه وړاندې کړي دي . هغه په خپل کلام کښې د ژوند ژورو تجربو، غمونو، دردونو، مینې او د وخت د تېرېدو احساس په ډېر فطري ډول بیانوي. د هغۀ په غزلونو کښې نۀ یواځې رومانټیک اړخ شته، بلکې د انساني ژوند په ژورو مسائلو لکه فردیت، اجتماعیت او په ځان باندې باور هم ډېر غور شوے دے. په دې لړ کښې دهغۀ یو څو شعرونه ملاحظه کړئ :

له نا اهلو زردارانو ښۀ غوښتل داسې وشماره
لکه لوټه چې له ښکته، پورته غر ته نۀ رسېږي (۴)

چې دې درد د مینې راکړو نو ژوندے دې ولې پرېښوم
په دې درد د پاکې مینې به دې هلته ؤم وژلے (۵)

احمد هر ظلم د وخت ته لکه غر یم
له هر خوا کۀ یرغلونه مې پۀ زړۀ شول (۶)

لکـــــه بـــوتي د صـحرا يـــو طـــوفانونـــه مـــو ليـدلي
زمـانې تـــه اختيـار د ے بدلـــوي دې مـــوسمونـــه (۷)

احمدجان صېب د پښتوژبې سره يو ځانګړے لياقت او مينه څرګنده کړې ده ۔ هغهٔ ساده خو ډېر ژورکلمات او ترکيبونه کاروي چې دلوستونکي په ذهن کښې د ژوروا حساساتو نړۍ را ژوندۍ کوي۔ د هغهٔ غزلونه ښکلي تشبيهات، استعارات اوسمبولونه کاروي، چې د شاعرانه ژبې هنر په ډېره ماهرانه توګه ښيي۔

لــــږ زمـــا د سترګواوښـــکو تـــه خـــو وګـــوره صـــنمه!
پـــــه شـــېبو شـــېبو د ژمـــي بارانونـــــه راورېـــږي (۸)

په دې شعر کښې د'' شېبو شېبو د ژمي بارانونه'' تشبيهـ کارول شوې ده ۔ شاعر خپلې سترګې او اوښکې د ژمي د باران سره پرتله کړې دي۔ دا تشبيهـ د شاعر د ژور درد او پرله پسې اوښکو جاري کېدو څرګندولو لپاره کارول شوي۔

د کلـــــي ســـــــپي راپســـــــې ولـــــــې غاپـــــــي
مـــــــونږه روان پـــــه خپلـــــه لار، خلـــــق يـــــو (۹)

دلته ''د کلي سپي '' يوه استعاره ده۔ د سپي څخه مراد هغه کسان دي چې بې ځايه نيوکې کوي ياخنډونه جوړوي۔ شاعر وائي چې مونږ په خپله لار روان يواو د دې خلقو پروا نهٔ کوو۔ ''سپي غاپي''دلته د خنډ جوړولويا بې ځايه تنقيد کولو دپاره کارېدلے دے۔

دوي په غزل کښې مختلف موضوعات را اخستي دي ، چې نهٔ يوائې د مينې او جذباتو نازک اړخونه رانغاړي ، بلکې د ژون دنور ژور مفاهيم هم پکښې شامل دي۔ په فني لحاظ هم ډېر مضبوط او مظمون (مطلب لرونکي مواد چې لري)دي ۔ هغه د غزل په صنف کښې دکلاسيکو اصولو سره هم يوځانګړې وفاداري لري او دغزل کلتوري او ادبي تاريخ ته يې درناوے کړے

دے۔د هغهٔ غزلونه د ردیف او قافیې سره داسې ماهرانه جوړ شوي دي چې د لوستونکي پام ځان ته جلبوي۔سلیم راز یې د شاعرۍ په حقله لیکي چې :

> " احمد جان احمد د خپل شعري کلاسیکي روایت تر مخه د شعر و فن صنفونه،علامتونه او ترکیبونه هم استعمال کړي دي او خپلې مروت والــــې لهجې ،علاقائي لفظیاتو ،ترکیباتواو لغاتو څخه یې استفاده کړې ده، چې دهغهٔ شاعرۍ ته یې حسن او قوت بخښلے دے ۔ د غزلو نه علاوه یې په نظمونواو سندرو کښې هم دغه ښکلا او زور لیدهٔ شي ۔ خصوصا سندرې خو یې د خپلې خاورې او موسمونو مخصوص رنګونه اوخوشبولري چې زړهٔ ته سروراو نظر ته نور بخښي او هم دغه سندریزه شاعري داحمدجان احمدد شاعرانه مزاج حامل اوحاصل ده"(۱۰)

داحمدجان مروت شاعري د کلاسیکه عشق او مینې ترڅنګ د ټولنیزو ستونزو او عصري غوښتنو انځورونه وړاندې کوي هغه په خپل هنري تخلیق کښې د مینې موضوعات اواحساسات د ټولنیزو حالاتوسره تړي او په دې توګه د خپلې دورې لپاره یوجامع او شعوري غږ وړاندې کوي۔د هغهٔ د شاعرۍ یومهم خصوصیت دادے چې هغهٔ په خپلو شعرونو کښې د خلقو ستونزې لکه بې عدالتي،غربت ،محرومیت او داسې نورحالات په دقت سره چېړلي دي۔ دوي هڅه کوي چې د خپلې دورې ټولنیزاو سیاسي حالاتو ته ژوره کتنه وکړي۔

احمدجان مروت په شعرلیکنه کښې حقیقت پسندي او د طبیعت انعکاس څرګند ښکاري، چېرې چې هغه په خپلو شعرونو کښې ټولنیز واقعیتونه طبیعي منظرې بیانوي۔ د هغهٔ شاعري یوائې د فرد داخلي حالت پورې محدود نهٔ پاتې کېږي، بلکې ملي اوټولنیزې ستونزې هم په خپلوموضوعاتوکښې شاملوي.لکه چې وائي:

منمـــــه زهٔ ،چـــــې زورور یــــې تــــهٔ د واک څـــــښتنه!
خپــل زور تــه ګوره،خــو د نــورو خلقـو تــوان تــه ګــوره (۱۱)

د حالاتو سور تنور کښې د سور اور له جبره خاندي
د خواړانو حوصلو ته سزاګانې په ژړا شوې (۱۲)

د احمد مروت په شاعرۍ کښې د وطنپالنې احساسات او ملي شعور څرګندېږي ، چېرې چې هغه د وطن مينه او ملي ويښتابه په حقيقت پسنده توګه سره تړلي وړاندې کوي.
داحمدمروت د شعرلهجه ساده اواغېزناکه ده. هغه خپل فکرونه اواحساسات په داسې ډول وړاندې کوي چې عام لوستونکي يې په اسانه درک کړي. د هغهٔ علامتونه ، ترکيبونه او استعارې په سادګۍ ولاړ وي. چې له دې سره په شعرکښې زراغېز کولو ځانګړتيا راځي.

څهٔ ستړې ستړې وه ليلا خو موسېدله تلله
پنډ يې په سر وهٔ د غمونو خندېدله تلله (۱۳)

په دې بېت کښې شاعرد ښځو د زغم او تکليفونو يو ژور تصوير وړاندې کړے دے، چې په علامتي او استعارتي بڼه بيان شوے دے .ليلا د يوې عامې ښځې په توګه نمائندګي کوي، چې د ژوند دستړياوو او مشکلاتو سره مخ ده.دا چې ليلا موسېدله او خندېدله ،دا ښکاره کوي چې هغه په ظاهري توګه ځان خوشحاله ښيي خو په حقيقت کښې د ژورو غمونو او ستړياوو لاندې ده.
احمدجان مروت په خپلو شعرونو کښې د پېچلو يا سختو خيالونو وړاندې کولو په ځاے عام موضوعات په ساده او روښانه انداز کښې بيانوي. په شعرکښې د ورځني ژوند ستونزې انساني احساسات او ټولنيزې مسلې د پېچلتيا نه بغېروړاندې کوي چې په اورېدونکو يا لوستونکو زراثرکوي.د دهٔ ساده او ژورشعرونه دا څرګندوي چې داحمد مروت تخليقي وړتياوې د پېچلو فلسفې په ځاے د عامو خلقو داحساساتواو تجربو په بيانولوکښې ډېره علاقه لري. سره له دې چې د شاعر په وړومبۍ شاعرۍ کښې احساسات او تخليقي ځواک څرګند دے، خو ځينې فني نيمګړتياوې لکه د بحر کمې زياتوالے او د اضافت کمزورتياوې ليدل کېږي. دا

نیمګړتیاوې ښيي چې شاعر په دې پړاؤ کښې د فني مهارتونوپه ترلاسه کولو بوخت وۀ. په دوېمې شعري مجموعه " څېرې څېرې ګرېوان" کښې هغۀ د پام وړ فني پرمختګ کړے دے. د شعرونو جوړښت ،د بحراستعمال او د اضافت پیاوړتیا په دې مجموعه کښې په ښه توګه څرګند دي. دا پرمختګ د هغۀ ژمنتیا ،مطالعې او د فن د لا ښۀ کولو د هڅو نتیجه ده،چې په پایله کښې د پښتو ادب په ډګر د یو پیاوړي شاعر په توګه راڅرګند شوے دے.

په عمومي توګه احمدجان احمد د غزل په صنف کښې یو ځانګړے مقام لري.هغۀ په خپله ساده ، خو ژوره شاعرانه ژبه کښې دانساني ژوند په فکري او فلسفي اړخونو ډېر په مهارت سره کار کړے دے.د هغۀ غزلونه د پښتو ادبیاتو یو زرین میراث دے ،چې په پښتو ژبه کښې یې یو ځانګړے حېثیت ترلاسه کړے دے.

**نظم** : د احمدجان مروت په نظمونو کښې د وطن سره مینه، انسان دوستي، قوم پرستي او کلتوري مسئلې په ژوره توګه انځور شوي دي. هغه د خپلو شعرونو له لارې د خپل وطن سره ژوره مینه څرګندوي چې پکښې د خپلې خاورې ،خلقو او کلتور ستائینه کوي. د قوم پرستۍ په اړه هغه د خپل قوم د ویاړونو ستائینه کوي او د خپل قومي هویت په ساتنه ټینګار کوي لکه چې وائي:

ښکلے پاکستان زمونږ

ابــاد دې وي شــاد دې وي ښــکلے پاکســتان زمــونږ
شــاد دې وي ابــاد دې وي ښــکلے پاکســتان زمــونږ
ازاد دې وي،ازاد دې وي ښــکلے پاکســتان زمــونږ
تـل دا زمـونږ بـلاد دې وي ښـکلے پاکسـتان زمـونږ (۱۴)

### د پښتون سندره

جهان ته مې سبق په زېر او زور ورکړے دے
پښتون يم په پښتو باندې مې سر ورکړے دے
پښتو دين، پښتو ايمان او پښتو شان دے زما
پښتو عزت، پښتو غيرت او پښتو آن دے زما
خپل ځان وربانددې ما په هر ډګر ورکړے دے
پښتون يم په پښتو باندې مې سر ورکړے دے (۱۵)

د انسان دوستۍ په برخه کښې، هغه د بشري ارزښتونو ،وروروليۍ او يووالي پېغامونه وړاندې کوي،چې د ټولنې د ښۀ والي لپاره هځونه ده :

### پيغام

راځئ ملګرو نن د مينې ښکلے هار جوړکړو
ټول به په جمع دغه هار ښۀ مزېدار جوړ کړو

شو به راغونډ دراو ګوهر ،لعل و جوهر ملګرو
جوړ به کړو تار د محبت ښۀ په هنر ملګرو
بيا به يو يو غاړه کښې تار د محبت اچوو
لرې به طوق يې د کينې ،بغض و نفرت اچوو
داسې به ودرېږو يو بل سره اوږه په اوږه
کړو به مزل وروڼو اخپل سره اوږه په اوږه

په اتفاق لکه د زانو به قطار جوړ کړو
ټول به په جمع دغه هار ښۀ مزيدار جوړ کړو (۱۶)

کلتوري مسائل هم د هغۀ په نظمونو کښې مهم ځاے لري ،چېرې چې هغه د خپل کلتور د ځانګړتياوو ،دودونو او رواجونو په اړه خبرې کوي،او د هغوي د ساتنې او پرمختګ لپاره هڅې کوي :

ماته ګوره
يوه خو نۀ ده
نۀ دوي لس دي،نۀ پنځلس
بلها ډېرې دي ګرزېږي
غړې پړې غونډې منډې
په بربنډ لباس ملبوسې
د هر يو نظر دعوت کړي
زۀ به کومه کومه ګورم
بس يو تۀ ښه يې دلبرې
خړه پړه ګړنګو ډکه
تاته ګورم ماته ګوره (۱۷)

د احمدجان مروت په نظمونو کښې رومانويت د هغۀ د شاعرۍ يو مهم اړخ دے، چې د احساساتو ژوره څرګندونه، د طبيعي ښکلا ستائينه اود فردي تجربوانځورونه پکښې شامل دي ـ هغه د خپلو نظمونو له لارې د مينې ،ښکلا او د احساساتو نړۍ ته سفر کوي، چې لوستونکي ته د تخيل او احساس يو نوے افق پرانيزي :

زۀ خپل تیر وختونه ژاړم
سپرلي لاړل ،خزان راغے
پاڼې پرېوتې د ګلو
ښکته خاورو کښې شوې خاورې
دا دي بیا اوس راټوکېږي
وچ لغړ ډکي د ونو
د تېرو تېرو ازغیو سېوري لاندې
تنکي تنکي نرغوتي دي چې ساه اخلي
د پګڼ نرۍ نرۍ اېشمې جولۍ کښې (۱۸)

احمدجان مروت په ساده او عوامي ژبه کښې شاعري کړې ده، چې د لوستونکو لپاره د پوهېدو او احساس کولو اسانتیا برابروي۔ د دې سادګۍ سره سره ،د هغۀ شعرونه په فني او فکري لحاظ شتمن دي۔ په فني برخه کښې هغه د تشبیهاتو ،استعارو او کنایو اغېزمن استعمال کوي ، چې د شعرونو ښکلا او ژورتیا زیاتوي۔ په فکري لحاظ د هغۀ نظمونه دټولنیزو ،فلسفي او انساني موضوعاتو ژور تحلیل وړاندې کوي، چې لوستونکي ته د تفکر او تامل زمینه برابروي۔ د احمدجان دا ځانګړتیا د هغۀ شاعري د پښتو ادب په ډګر کښې ځانګړې او ارزښتناکه کوي۔

## پایله :

احمدجان احمد مروت د پښتو ادب یو وتلے شاعر،څېړونکے،ژباړن او نقاد دے چې په شاعرۍ،تحقیق،تنقید او ژباړې کښې یې مهم کار کړے دے۔ د هغۀ ادبي خدمات په خپلو فني او فکري ژوروالي سره د پښتو ادب یو ځانګړے باب جوړوي۔

# حوالې


1. سلیم راز، ځیرې ځیرې ګرېوان، اعراف پرنټرز، محله جنګي پېښور، ۲۰۲۲ ص۷
2. سلیم راز، درد او مجذوب، یونیورسټي پبلشرز، قصه خواني بازار، پېښور، ۲۰۰۶، ص۱۱
3. حنیف خلیل، د هائیکو قیصه، اعراف پرنټرز، محله جنګي پېښور، ۲۰۲۳، ص۱۶
4. احمد جان، مروت، ځیرې ځیرې ګرېوان، اعراف پرنټرز، محله جنګي پېښور، ۲۰۲۲ ص۴
5. همدا کتاب، ص ۴۱
6. همدا کتاب ص۱۲
7. همدا کتاب ص ۷۳
8. احمد جان، مروت، اوښکې ځاځکي ځاځکي، شریف سنز، پېښور، ۲۰۰۱ ص۷۱
9. احمد جان، مروت، ځیرې ځیرې ګرېوان، اعراف پرنټرز، محله جنګي پېښور، ۲۰۲۲ ص۱۱۵
10. سلیم راز، ځیرې ځیرې ګرېوان، اعراف پرنټرز، محله جنګي پېښور، ۲۰۲۲ ص ۱۰
11. همدا کتاب ، ص ۷۰
12. همدا کتاب ، ص ۱۰۸
13. همدا کتاب ، ص ۶۶
14. احمد جان، مروت، اوښکې ځاځکي ځاځکي، شریف سنز، پېښور، ۲۰۰۱ ص۱۳۸
15. همدا کتاب ، ص ۱۴۰
16. همدا کتاب ، ص۱۴۲
17. احمد جان، مروت، ځیرې ځیرې ګرېوان، اعراف پرنټرز، محله جنګي پېښور، ۲۰۲۲ ص۱۲۰
18. همدا کتاب ، ص ۱۰۲